# [د آسانچاري لپاره یادښتونه]

## لسمه جلسه: ارزونه



**۱۰/۱۱۰ سلایډ: لسمه جلسه: ارزونه**

**موده:** ۳۰ دقیقې

**وخت:** ۱۲:۰۰ – ۱۲:۳۰

**بڼه:** انفرادي تمرین (لکه د ارزونې د فورمې ډکول)، وروستی ګروپي بحث

**اړین توکي:** د ارزونې فورمه

**موخه:**

۱. د زده‌کړې پر موخو بیاکتنه
۲. د ارزونې د فورمې ډکول
۳. په دې هکله وروستی ګروپي بحث چې روزنیزه دوره څنګه وه او څرنګه ښه کېدای شي؟

**منځپانګه:**

- د زده‌کړې د موخو بیاکتنه
- د ارزونې د فورمې ډکول او راټولول
- وروستی تبصرې/نظرونه او پای ته رسول

=============================================

۱۰/۱۱۰ سلایډ: تر پوښښ لاندې موضوع: لسمه جلسه: ارزونه

تر ټولو مخکې او مهم، له ګډونوالو څخه په دې یوه نیمه ورځنۍ روزنیزه دوره کې د ګډون لپاره مننه وکړئ او مبارکي ورته ووایئ.

**ګډونوال په دې اړه خبر کړئ چې تاسو غواړئ په دې وروستی جلسه کې څه ترسره کړئ.**

- د ارزونې د فورمې له ډکولو مخکې د زده‌کړې د موخو بیاکتنه
- د ارزونې د فورمې ډکول
- په دې هکله وروستی ګروپي بحث چې روزنیزه دوره څنګه وه او څرنګه ښه کېدای شي؟



**۱۰،۱۱۱ سلایډ: د زده کړې د موخو بیاکتنه**

مخکې له دې چې ګډونوال د ارزونې فورمې ډکې کړي، د زده‌کړې پر موخو بیاکتنه وکړئ.

تاسو په دې هکله د خبرو لپاره وخت لرئ مګر مهرباني وکړئ له ګډونوالو وغواړئ چې لومړی د ارزونې فورمه ډکه کړي.



**۱۰،۱۱۲ سلایډ: د ارزونې د فورمې د ډکولو وخت**

**موده:** ۵ دقیقې

**توکي:** د فیډبک فورمه: هر ګډونوال ته باید یوه فورمه ورکړل شي، مګر بیا یې هم چک کړئ.

**لارښوونې:**

له ګډونوالو څخه وغواړئ چې په ۵-۳ دقیقو کې د فیډبک فورمه ډکه کړي او د جلسې تر پایه یې د له ځان سره وساتي.

که چېرې ګټور وي، د زده‌کړې د موخو په هکله وروستی سلایډ وروښئ.




**روزنه څرنګه ارزوئ؟**

**۱۰٫۱۱۳ سلایډ: نو...روزنه څرنګه اررزوئ؟**

**موده:** ۱۵ دقیقې

**بڼه:** ګروپي بحث

**لارښوونې:**

- له ګډونوالو څخه مننه وکړئ او مبارکي ورکړئ چې یوه نیمه ورځنۍ روزنیزه دوره یې په بریا سره پای ته ورسوله.
- د فیډبک فورمې ته په پام، له ګډونوالو څخه وغواړئ چې د رزونیزې دورې د اغېزناکو ټکیو په هکله لنډې خبرې وکړي، کوم شیان باید لا ښه شي، او په زړه پورې موضوع څه وه.

[د آسانچارو لپاره یادداښت: تاسو غواړئ روزنیزه دوره پای ته ورسوئ! غواړئ ګډونوال ټولګی په داسې حال کې پرېږدي چې په دې اړه هیجاني وي چې څه پېښېدونکي دي او څه پرېکړې کوي. تاسو ته د مبارک وي – ستاسو د مرستې له امله دا ټولګی جوړ شو. زما ملګریه، پر ځان وویاړئ!

**[د روزنیزې دورې پای]**